د امیرِ اهلِسُنّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه

# نعتیه شاعري

## د یومِ وِلادتِ امیرِاهلسنّت د اجتماع بیان



د یومِ وِلادتِ امیرِ اهلسنّت د اجتماع بیان

(پۀ 15 مارچ، کال 2026ء/ رمضان الکریم، کال 1447ھ پۀ شپږ ویشتمه شپه (د اتوار او گل پۀ ترمینځه شپه)

# د امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه نعتيه شاعري

پۀ دې بیان کښې به تاسو زده کړئ...

- ـــ د نعت شريف ليکلو په برکت شفاء
- ـــ د وسائل بخشش تعارف
- ـــ د سپوږمۍ نه ښکلي مخ والا
- ـــ عاشقان او مدينه

پیشکش

اَلْمَدِيْنَةُ الْعِلْمِيَة

Islamic Research Center

(شعبہ: بیاناتِ دعوتِ اسلامی)

FOR FEEDBACK
(+92) 315 2692 786

GET MORE SPEECHES
(+92) 310 8882 033

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ ؕ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی خَاتَمِ النَّبِیّٖنَ ؕ

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ؕ

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا رَسُوْلَ اللہ وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا حَبِیْبَ اللہ

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا نَبِیَّ اللہ وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا نُوْرَ اللہ

نَوَیْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِکَافِ (ترجمه: ما د سُنَّت اعتكاف نِيَّت اوكړو)

## د دُرُودِ پاک فضيلت

د اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے:

رَاَیْتُ رَجُلًا مِنْ اُمَّتِیْ یَزْحَفُ عَلَی الصِّرَاطِ مَرَّۃً وَیَجْثُوْ مَرَّۃً فَجَاءَتْہُ صَلَاتُہُ عَلَیَّ فَاَخَذَتْ بِیَدِہٖ فَاَقَامَتْہُ عَلَی الصِّرَاطِ حَتّٰی جَاوَزَ۔[1]

**ترجمه:** زما يو اُمتي په پل صراط كله په خوئيدلو او كله په زنګونانو تللو، په دې كښې هُغه درود راغلو كوم چې هغۀ په ما باندې وئيلے وو، درودِ پاک هغه د لاس نه ونيولو او هغه يې ودرولو د دې پورې چې هغه يې په پل صراط واړولو۔

**د حديث شرح:** درودِ پاک هغه په پل صراط واړولو او جَنَّت ته يې ورسولو۔ [2]

سَلِّم! سَلِّم! کی ڈھارس سے | پُل پر ہم کو چلاتے یہ ہیں

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللہُ عَلٰی مُحَمَّد

---

1… الاحاديث الطوّال للطبرانی، صفحه:8584 ملتقطاً۔

2… التيسير بشرح جامع الصغير، جلد:1، صفحه:370۔

## د بيان اوريدلو نيتونه

پهٔ **حديثِ پاک** کښې دي: **اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّيَّات** د اعمالو دار و مدار پهٔ نيتونو دے-[1]

**اے د خوږ نبي** صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** پهٔ ښو ښو نيتونو د عمل ثواب زياتيږي- راځئ چې د بيان اوريدو نه مخکښې څهٔ ښهٔ ښهٔ نِيَّتونه اوکړو: مَثَلاً ◈ د **اللّٰه** پاک د رضا د پاره به ټول بيان اورم ◈ پهٔ اَدب به کښينم ◈ ښهٔ پهٔ توجُّه به بيان اورم ◈ څهٔ چې واورم، د هغې به د يادولو، پخپله پرې د عمل کولو او نورو ته د رَسولو کوشش کووم-

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د نعت شريف د ليکلو پهٔ برکت يـې شفا نصيب شوه

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** اِمام شرفُ الدين بُوصِيري رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه ډير لوئي عاشقِ رسول تير شوے دے، اِمامِ بُوصِيري رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه به د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نعتونه هم ليکل- **قصيدهٔ بُرده شريف** د اِمامِ بُوصِيري رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه ډير مشهور کلام دے-

د دې قصيدې مبارکې د ليکلو وجه هم ډيره خوندوره ده- هغه زهٔ تاسو ته بيانوم-

اِمامِ بُوصِيري رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: يو ځل پهٔ ما باندې فالج حمله اوکړه، نو د هغې پهٔ وجه زما د وجود نيمي حصې کار پريښودو- د بيمارۍ پهٔ ورځو کښې چې کله دوائي هم ښه ثابته نهٔ شوه، نو ما د اخري نبي، مکي مدني صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د نعت مبارک د ليکلو اِراده اوکړه د پاره د دې چې **اللّٰه** پاک د دې پهٔ برکت ما ته شفا راعطا کړي-

---

[1] … بخاری، کتاب بدء الوحی، صفحه:65، حديث:1۔

مولانا حسن رضا خان رَحْمَةُاللهِعَلَيْه ليکلي دي:

تمہارا نام مصیبت میں جب لیا ہو گا | ہمارا بگڑا ہوا کام بن گیا ہو گا (1)

بهر حال! هغوئي فرمائي: ما هم د شپې د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نعت ليکل شروع کړو، د الله پاک په کرم سره مې په لږ وخت کښې پوره قصيده مبارکه وليکله، قصيده چې کله مکمل شوه نو زۀ اودۀ شوم، سترګې مې څۀ پټې شوې چې بخت مې رابيدار شو، خوږ آقا، د مدينے والا مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خوب کښې تشريف راوړو-

سرِ بالیں اُنہیں رَحمت کی ادا لائی ہے | حال بگڑا ہے تو بیمار کی بن آئی ہے (2)

هم په خوب کښې خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د قصيدې مبارکې د لوستلو حکم اوکړو، ما ورته پوره قصيده ولوستله- د الله پاک حبيب صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خوشحاله شو او زما په وجود باندې يې خپل مبارک لاس راښکلو او ما ته يې خپل خادر راعطا کړو، فرمائي: کله چې زۀ د خوب نه رابيدار شوم نو زما د وجود نه فالج لرې شوے وو-(3)

مُحَمَّد کا لطف و عطا اللہ! اللہ! | مری رُوح و دِل پر ہُوا اللہ! اللہ!
مُحَمَّد مُحَمَّد وظیفہ ہے میرا | مُحَمَّد کی ہر دَم نِدا اللہ! اللہ!

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

[1]...ذوقِ نعت، صفحہ:51۔
[2]...ذوقِ نعت، صفحہ:250۔
[3]...فوات الوفیات لابن شاکر، جلد:3، صفحہ:368۔

# د امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه مختصر تعارف

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** د صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللہُ عَنْہُم د زمانې نه واخله د اوسه پورې د نبي پاک صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سره د محبت مختلفې طریقې اختیار کړے شوې دي، په دې کښې یوه طریقه شاعري هم ده، ◈ د حضرت حسان بن ثابت ◈ حضرت عبد الله بن رَواحه ◈ کعب بن زُبَیر ◈ کعب بن مالِک رَضِیَ اللہُ عَنْہُم نه علاوه نورو ډیرو صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللہُ عَنْہُم دا طریقه اِختیار کړه- د دِین د بزرګانو یوې شمیرې هم دا عمل اختیار کړو، هم په دغه مبارکو هستیانو کښې یو د دې وخت د عظیم علمي او روحاني شخصیت، کامِل ولي، عاشقِ رسول، امیرِ اهلِسُنَّت مولانا محمدالیاس عطّار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه ذات مبارک هم دے-

راځئ چې د هغوئي د نعتونو په شاعرۍ د خبرو کولو نه مخکښې د امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه مختصر تعارف واورو: امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه په 26 **رَمَضَانُ الْمُبَارَک** کال 1369ھ بمطابق 12 جولائي کال 1950ء د شروع [یعني چارشنبې] په ورځ د پاکستان په مشهور ښار کراچۍ کښې د ماښام نه لږ وخت مخکښې دُنیا ته تشریف راوړلو ◈ امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه هُم د ماشومتوب نه ډیر د ساده طبیعت مالِک دے، نهٔ چا ته بد وائي او نهٔ جګړه کوي ◈ د دِین طرف ته مائله کیدو په وجه یـې هم په ځوانۍ کښې عِلم دِین حاصل کړے وو- هغوئي د عِلم حاصلولو په ذریعو کښې کتابونه لوستل او د علمائے کرامو په صحبت کښې کښیناستل اختیار کړل- دې لړ کښې هغوئي پرله پسې د 22 کالو پورې د مفتیٔ اعظم پاکستان حضرت علامه مفتي وقار الدین قادري رضوي رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ په صحبت کښې حاضر وو ◈ مفتي وقارُ الدِّین رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ او شارحِ بخاري، مفتي شریف الحق امجدي رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ هغوئي ته خلافت عطا کړے دے ◈ په ستمبر کال 1981ء کښې امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د عاشقانِ رسول دِیني تنظیم **دعوتِ اِسلامي** شروع کړه، اګر چې

هغوئي مخکښې هم د نیکۍ دعوت ورکولو خو چې کله **دعوتِ اِسلامي** په باقاعده توګه شروع شوه نو د هغه وخت نه امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَہ د نیکۍ د دعوت ورکولو باقاعده سلسله شروع کړه ◈ امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَہ دا مَدَني مقصد اختیار کړو چې **ما ته د ځان او د ټولې دُنیا د خلقو د اِصلاح کوشش کول دي** بیا د دې مَدَني مقصد د پاره نهٔ هغوئي ورځ ته وکتل او نهٔ یې شپې ته وکتل، پرله پسې یې کوشش کولو، کوشش کولو، تر دې پورې چې د **الله** پاک کرم وشو، د خوږ حبیب صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د کرم په نظر او د اولیائے کرامو رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہِم په فیضان سره د دعوتِ اِسلامي دِیني پیغام په ټوله دُنیا کښې عام شو ◈ هغوئي به د لرې لرې علاقو سفر کولو ◈ په یوه ورځ کښې به یې ډېر بیانونه کول ◈ جومات جومات، کلي کلي، ښار ښار ته به یې تشریف وړلو ◈ خلقو له به یې د نیکۍ دعوت ورکولو ◈ چې چرته به مړے وشو نو د مسلمانانو د غم خوارۍ، زړهٔ ساتنې او ښیګړې د جذبې لاندې به یې مړي له په خپلو لاسونو باندې غسل ورکولو، کفن به یې ورته اچولو، جنازه به یې ورله کوله ◈ د غم او د خوشحالۍ په موقع باندې به یې د مسلمانانو داسې زړونه ساتل چې هغوئي به هم د نیکۍ د دعوت عام کولو د پاره د امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَہ د سفر ملګري جوړ شول-

د امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَہ د مسلسل کوششونو په وجه ◈ کوم چې بے نمانځه وو نمونځ ګزاره جوړ شول بلکې د جوماتونو امامان جوړ شول ◈ بد نظر کوونکي حیادار جوړ شول ◈ مور پلار تنګوونکي ادب کوونکي جوړ شول ◈ غلا کوونکي، ډاکوان راغلل، توبه یې کړه، غلا، ډاکې یې پرېښودلې او د معاشرې شریف انسانان جوړ شول ◈ د حسد په وور کښې سوزیدونکي شُکر ګزاره او خیر خواه جوړ شول ◈ د فلمونو او د سندرو شوقیان د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نعت لوستونکي او اوریدونکي جوړ شول ◈ د دُنیا د ګنده ګناهونو په عشق کښې

ګرفتار، د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د زلفو مئینان جوړ شول ◈ پهٔ مال او دولت پسي منډې وهونکي د **الله** پاک د رضا طلب ګاران جوړ شول ◈ شرابیان راغلل، توبه یې کړه او پاک انسانان جوړ شول ◈ غافله راغلل او عبادت ګزاره جوړ شول ◈ د بے لارې شوو نیغه لار نصیب شوه ◈ د زرګونو کافرانو د اِسلام نعمت نصیب شو- داسې یو یو دوه دوه راتلل، د نیکۍ د دعوت پهٔ دې سفر کښې د هغوئي سره شاملیدل، قافله جوړیدله او اَلْحَمْدُلِلّٰه! د نیکۍ د دعوت دا دِیني پیغام ټولې دُنیا ته ورسیدلو-

اے امیرِ اہلسنت تیری شوکت زندہ باد

تجھ سے دُنیا بھر میں ہے دِیں کی اشاعت زندہ باد

تیرے دم سے آئی وہ دین و شریعت کی بہار

اعلیٰ حضرت زندہ اور صدرِ شریعت زندہ باد

تیری مجلس میں گئے جو بن گئے صالح سعید

نوجواں پر ہو ترا فیضانِ صحبت زندہ باد

گوشہ گوشہ دنیا کا ہونے لگا ہے فیض یاب

عام ہر سُو ہو گیا فیضانِ سُنَّت زندہ باد(1)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د وسائلِ بخشش تعارف

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! **وسائلِ بخشش** د امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَه د نعتونو مجموعه ده- پهٔ دې کښې ◈ 28 حمدونه او دعاګانې ◈ 169 نعتونه او اِستغاثې ◈ 32 مناقب

---

1... مناقب عطار، صفحه:1615-

◈ 8 صلوٰۃ او سلام ◈ 33 متفرق کلامونه دي، دا ټول 270 کلامونه جوړيږي- هُم داسې وسائلِ فردوس هُم د امیر اهل سُنَّت دَامَت بَرَکَاتُہُمُ العالِیہ د کلامونو مجموعه ده، په دې کښې ◈مناجات ◈ منقبتونه ◈ او د نمونځ او رمضان متعلق کلامونه ◈ او مختلفې نعرې موجودې دي،په دې مجموعه کښې ټول 28 کلامونه موجود دي-

ټول کلامونه ◈ پهٔ اسانه اُردو ژبه کښې دي ◈ پهٔ دې کښې د محبت د جذباتو ځرګندونه ده ◈ د عاجزئ او انکسارئ اقرار ◈ د عاشقئ د لیونتوب نه ډک اظهار، د ذوق او شوق جوش راپارول دي ◈ چرته الله پاک ته د بخښنې خواستونه کولے شي ◈چرته د آقا او مولا صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ دربار کښې استغاثې وړاندې کولے شي ◈ چرته د اهلِ بیتو او د صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللهُ عَنۡهُم سره د خپل عقیدت اظهار کیږي- ګویا وسائلِ بخشش د عاشقانِ رسول د پاره د عشق او د محبت صحیفه ده د کومې پهٔ لوستلو چې اِنسان پهٔ عشق کښې ډوب شي-

صَلُّوا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## وسائلِ بخشش او د الله پاک نه ویره

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د الله پاک نه د ویرې مطلب دا دے چې د الله پاک ◈ د بے نیازئ ◈ د هغهٔ د ناراضګئ ◈ د هغهٔ د ګرفت ◈ او د هغهٔ د طرف نه د ورکړے کیدونکو سزاګانو سوچ اوکړي او د اِنسان پهٔ زړهٔ کښې ویره راپیدا شي-(1)

کله چې مونږ وسائلِ بخشش لولو نو مونږ ته دا خبره ډیره ښه معلومیږي چې امیرِ اهلِسُنَّت مولانا محمد الیاس عطّار دَامَتۡ بَرَکَاتُہُمُ الۡعَالِیَہ د الله پاک نه خومره ویره لرونکے دے ◈ چې دوئي دَامَت بَرَکَاتُہُمُ العالِیہ د الله پاک نه د ویرې په سبب عاجزي کوي او پهٔ خپلو ګناهونو

1... احیاء العلوم، کتاب الخوف والرجاء، جلد:4، صفحه:173 ماخوذاً-

باندې د پښيمانتيا اِظهار کوي او د هغې بخښنه غواړي او ليکي:

| | |
|---|---|
| یاخدا میری مغفرت فرما | باغِ فِردوس مَرحَمت فرما |
| تُو گناہوں کو کر مُعاف اللہ! | میری مقبول معذِرت فرما |
| ہو نہ عطاؔر حشر میں رُسوا | بے حساب اس کی مغفِرت فرما (1) |

◈ نو دا خوفِ اِلٰهي اثر دے چې د دوزخ د ويرې په لړزان وي او د دوزخ د عذاب نه د حفاظت د پاره په بارګاهِ اِلٰهي کښې داسې عرض کوي:

| | |
|---|---|
| گر تُو ناراض ہوا میری ہلاکت ہوگی | ہائے! میں نارِ جَہَنَّم میں جلوں گا یا ربّ! |
| دردِسر ہو یا بُخار آئے تڑپ جاتا ہوں | میں جَہَنَّم کی سزا کیسے سَہوں گا یا ربّ! (2) |

◈ چرته د **الله** پاک د عذاب نه پۀ ويريدو ليکي:

| | |
|---|---|
| گناہ بے عدد اور جُرم بھی ہیں لاتعداد | مُعاف کردے نہ سہ پاؤں گا سزا یارب (3) |

ګويا د هغوئي د شعرونو پۀ لوستلو ډيره ښه معلوميږي چې هغوئي د **الله** پاک نه خومره ويره لري-

## د عشقِ رسول اِظهار

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! پۀ دې کښې هيڅ شک نشته چې عشقِ رسول يو لازوال

---

1...وسائلِ بخشش، صفحہ:75 ملتقطاً۔
2...وسائلِ بخشش، صفحہ:85۔
3...وسائلِ بخشش، صفحہ:78۔

دولت، د ایمان اصل بلکې زمونږ د اِیمان ځان دے او د دې نه بغیر اِیمان نهٔ کامِل کیږي-

مُحَمَّد کی محبت دینِ حق کی شرطِ اول ہے | اسی میں ہو اگر خامی تو سب کچھ نامکمل ہے

د امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَہ عشقِ رسول هم د کمال دے د هغوئي پهٔ شاعرۍ کښې د عشقِ رسول نظارې ځائے پهٔ ځائے پهٔ نظر راځي- ◈ چرته پهٔ عشقِ رسول کښې د ځان د ختمولو، د کور سامان قرباني کولو داسې ارمانونه کوي چې کوم عاشق یې هم واوري نو پهٔ لړزیدو شي چې

میں نام پر تیرے واری جاؤں | میں عشق میں تیرے گھر لٹاؤں
دو ایسا جذبہ دو ایسی ہمت | نبیِّ رحمت شفیعِ اُمّت(1)

◈ چرته پهٔ دې عشق او محبت کښې د لړزیدو خواستونه کوي:

آتَشِ عشق بھڑکتی ہی رہے سینے میں | بس تڑپتا رہوں سرکار! رَسُولِ عَرَبی(2)

◈ چرته پهٔ دې عشق او محبت کښې هر وخت د بې قرارۍ د خواهش اظهار کوي او د خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په دربار کښې ګزارش کوي:

ہر وقت سوزِ عشق میں تڑپا کروں شہا | آگ ایسی میرے دِل میں لگا دیجئے حُضُور(3)

---

[1]...وسائلِ بخشش، صفحہ:207۔
[2]...وسائلِ بخشش، صفحہ:374۔
[3]...وسائلِ بخشش، صفحہ:231۔

# د اميرِ اهلِسُنَّت عشقِ رسول

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** علمائے کرام فرمائي: د نبي پاک صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره د محبت او عشق تقاضې او علامت دا دے چې د اطاعت او تابعدارۍ والا کارونه اوکړے شي- حضرت سهل بن عبد الله رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ليکلي دي: د اخري نبي، مُحَمَّدِ عربي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره د محبت علامت د هغوئي د سُنَّت سره محبت کول دي-(1)

د اميرِ اهلِسُنَّت مولانا محمد الياس عطّار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه عشقِ رسول صرف د هغوئي د شعرونو د حده پورې نۀ دے بلکې پۀ عملي توګه اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د عشقِ رسول پۀ باره کښې پۀ اوسني وخت کښې خپل ثاني نۀ لري ◈ دا د سرکارِ عالي وقار، مکي مَدَني تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د عشق او د محبت نتيجه ده چې د اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه ژوند د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د سُنَّت پۀ رنګ کښې رنګ دے ◈ هغوئي يو رښتونے او با عمله عاشقِ رسول دے ◈ هغوئي د عاشقِ مدينه پۀ لقب سره يادولے شي ◈ هغوئي پۀ عشقِ نبي کښې ژړيږي ◈ د مدينے منورې پۀ ياد کښې اوښکې توئيوي ◈ او کله نا کله خو د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ ياد کښې لکه د ليونو دومره لړزيږي او ژړيږي چې ليدونکي له هم ژړا ورشي ◈ بلکې پۀ خپل کلام کښې پۀ يو ځائے کښې پۀ ژړا ژړا د رُوح د وتلو ارمان کوي او فرمائي:

---

1... تفسیرِ قرطبی، پارہ:3، سورۂ آل عمران، زیرِ آیت:31، جلد:2، جز:4، صفحہ:48۔

آپ کے عشق میں اے کاش کہ روتے روتے | یہ نکل جائے مری جان مدینے والے (1)

## د سپوږمۍ نه ښکلي مخ والا

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! د سپوږمۍ ذِکر په شعر او شاعرۍ کښې ځائے په ځائے میلاؤیږي ◈ د محبوب حُسن ◈ د محبوب ښائست ◈ د محبوب دلکشي ◈ او د محبوب د رنګ د سپوږمۍ سره تشبیه کول په شاعرۍ کښې ډیره عامه خبره ده-

امیرِ اهلِسُنَّت مولانا محمد الیاس عطّار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه هم په خپله شاعرۍ کښې د نبي پاک صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د مخ مبارک په ډیرو ځایونو کښې د سپوږمۍ سره تشبیه ورکړې ده-

په یو ځائے کښې هغوئي فرمائي:

چاند سا چمکاتے چِہرہ نور برساتے ہوئے | آگئے بدرُالدُّجیٰ، اهلاًوَّسَهلاًمرحبا (2)

مفهوم: یعني د ربیع الاول په دولسمه شپه خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خپل سپوږمۍ په شان مخ د کوم په برکت چې تیاره شپې روښانه کیږي، په روښانه کولو تشریف راوړلو-

اَللّٰهُ اَكْبَر! د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ښکلي ښکلي مخ مبارک د شپو د روښانه کولو، د تیارو د رڼا کولو، د منور منور مخ په باره کښې خوږه مور جانه حضرت عائِشه صِدِّیقه طیبه طاهره رَضِیَ اللهُ عَنْهَا فرمائي چې ما د پیشمني په وخت څۀ ګنډل چې زما د لاس نه ستن وغورځیدله، په اتفاقي توګه ډیوه هم مړه شوه- په دې کښې خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني

---

1...وسائلِ بخشش، صفحه:422۔
2...وسائلِ بخشش، صفحه:146۔

مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تشريف راوړلو، د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د مخ مبارک پۀ نور سره ټوله کمره روښانه شوه او ستن ميلاؤ شوه۔(1)

پۀ يو بل ځائے کښې اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه فرمائي چې سپوږمۍ د خپلې ښکلا باوجود د هغه ښکلي مخ پۀ مخکښې هيڅ هم نۀ ده۔

يقيناً جس كے آگے چودہويں كا چاند شرمائے | تمہارا ہے وہ چہرہ نِكھرا نِكھرا يارسولَ الله( 2 )

پۀ يو بل ځائے کښې فرمائي:

نور والے کے رُخِ روشن کی کیا تعریف ہو
چہرۂ انور کے آگے چاند بھی شرمایا ہے(3)

د اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه دا شعرونه د دُنيائي شاعرانو پۀ شان صرف د خيالونو نۀ دي بلکې د حديثونو مبارکو نچوړ دے۔ پۀ دې حديثونو کښې يو حديثِ پاک تاسو ته بيانووم۔

حضرت جابر بن سَمُره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: يو ځل ما رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د څوارلسمي سپوږمۍ پۀ شپه کښې د سرو (ليکو والا) حُلّه کښې وليدلو، ما به کله سپوږمۍ ته کتل او کله به مې د هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نوراني مخ ته کتل، نو ما ته به د هغوئي مخ د سپوږمۍ نه هم زيات ښکلے پۀ نظر راتللو۔(4)

---

1...القول البديع، الباب الثالث، صفحہ:153۔
2...وسائلِ بخشش، صفحہ:345۔
3...وسائلِ بخشش، صفحہ:461۔
4...ترمذی، کتاب الآداب، باب ماجاء فی الرخصة فی لبس...الخ، صفحہ:656، حدیث:2811۔

د قرآنِ کريم مشهور مفسر، حکيم الأُمّت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دې حديثِ پاک پهٔ شرح کښې فرمائي: ◈ د صحابهٔ کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُم نظر حقيقت پيژندونکے نظر وو، (يعني حقيقت ليدونکے نظر وو) ◈ پهٔ ډيرو وجو د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مخ مبارک د سپوږمۍ نه هم زيات ښکلے دے ◈ سپوږمۍ صرف پهٔ شپه کښې ځليږي او د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مخ مبارک د ورځې هم ځليږي ◈ سپوږمۍ صرف درې شپې (پهٔ خپل ښه پوره زور کښې) ځليږي او د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مخ مبارک هميشه هره ورځ او هره شپه ځليږي ◈ سپوږمۍ پهٔ وجودونو باندې ځليږي او د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مخ مبارک د وجودونو سره سره پهٔ زړونو هم ځليږي ◈ سپوږمۍ صرف اَبدَان (وجودونو) له نُور ورکوي او د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مخ مبارک اِيمان له نُور ورکوي ◈ سپوږمۍ ورهٔ کيږي او بيا غټيږي او د رسولِ هاشمي مُحَمَّدِ عربي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مخ مبارک د وړوکي کيدو نه محفوظ دے ◈سپوږمۍ تندر نيسي او د رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مخ مبارک چرې هم تندر نهٔ نيسي ◈ پهٔ سپوږمۍ د عالَمِ اجسام نظام قائم دے، او پهٔ حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د عالَمِ اِيمان نظام قائم دے۔[(1)]

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## مالِک او مُختار نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

عاشق ◈ د خپل محبوب ◈ د هغهٔ د اداګانو ◈ د هغهٔ د خوبيانو ◈ د هغه د کمالونو ښه ډير ذِکر کوي- دا څيز مونږ ته د اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه پهٔ کلام کښې ښه ډير پهٔ نظر راځي-

---

1...مرآة المناجيح، جلد:8، صفحه:60۔

په یو ځائے کښې امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه لیکلي دي:

مالک و مختارِ ما، صلِّ علیٰ خوش آمدید | نائبِ ربِّ العُلیٰ صلِّ علیٰ خوش آمدید (1)

مفهوم: یعني اے د الله پاک حقیقي نائبه او د هغهٔ د مُلک مالکه او مختاره تاسو ته هرکلے۔

نور فرمائي چې دا عطاګاني ستاسو رَبّ فرمائیلې دي، د هغه فضل دے:

فضلِ خدا سے مالکِ کون و مکاں ہیں آپ | دونوں جہان آپ کے ہیں اختیار میں (2)

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! دا هم د امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه څهٔ د ځانه راجوړ کړے خیال نهٔ دے بلکې د یو حدیثِ پاک ترجماني ده۔ نبي پاک صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: وَاِنِّیْ اُعْطِیْتُ مَفَاتِیْحَ خَزَائِنِ الْاَرْضِ بے شکه ما ته د زمکې د ټولو خزانو کنجیانې (*Keys*) راعطا کړے شوې دي۔(3)

سُبْحٰنَ الله! معلومه شوه چې زمونږه خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مالِکِ کُل دے، د دُنیا ټولې خزانې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته عطا کړے شوې دي، چا ته چې څهٔ وغواړي ورعطا کوي یې۔

کُنجی تمہیں دی اپنے خزانوں کی خُدا نے | مَحْبُوب کیا مَالِک و مُخْتار بنایا
عَالَم کے سلاطین بھکاری ہیں بھکاری | سَرکار بنایا تمہیں سَرکار بنایا

1...وسائلِ بخشش، صفحہ:215۔
2...وسائلِ بخشش، صفحہ:275۔
3...بخاری، کتاب الجنائز، باب الصلاۃ علی الشہید، صفحہ:377، حدیث:1344۔

بے یار و مددگار جنہیں کوئی نہ پوچھے | ایسوں کا تجھے یار و مددگار بنایا[1]

**وضاحت:** یا رسولَ الله صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! **الله** پاک تاسو ته د خپلو خزانو کنجیانې درعطا کړې دي او تاسو يـې مالِک او مُختار جوړ کړي يـې، چا ته چې څۀ غواړئ ورعطا کوې يـې، څۀ چې غواړئ عطا کوئ يـې، د دُنيا بادشاهان خو ستاسو پۀ مخکښې سوالګري دي، اصلي اِختيار خو هم ستاسو دے، د چا چې پۀ دُنيا کښې څوک تپوس کولو والا نۀ وي **الله** پاک تاسو د داسې خلقو مددګار جوړ کړي يـې۔

امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَه ليکلي دي:

حق نے کردیا مالک تم کو سب خزانوں کا | تم نے ہی کِھلایا ہے تم نے ہی پِلایا ہے

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د خوږ مصطفےٰ صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سخاوت

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** نبي پاک صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ډير لوئي سخي دے، څۀ چې ورسره وي تقسيموي يـې، کله هم څوک منع کوي نۀ، څوک سوالګرے د خپل دربار نه خالي لاسونه نۀ ليږي۔ حضرت جابر بن عبدُ الله رَضِیَ اللہُ عَنۡہُما فرمائي چې حُضُور صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم چرې هم يو سوالګري ته پۀ جواب کښې لَا (نا) لفظ نۀ دے فرمائيلے۔[2] د نبي کريم صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دا صفت يـې بيان کړے دے او امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَه ليکلي دي:

کوئی خالی نہیں لوٹا کبھی دَر سے آقا | ہے سخی آپ کا دَربار رَسولِ عَرَبی[3]

---

[1]...وسائلِ بخشش، صفحہ:464۔
[2]...بخاری، کتاب الادب، باب حسن الخلق والسخا...الخ، صفحہ:1504، حدیث:6034۔
[3]...وسائلِ بخشش، صفحہ:374۔

هم داسې د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د کورنۍ په تعریف کولو یــې لیکلي دي:

تُو ہے بیکسوں کا یاوَر اے مِرے غریب پرور
ہے سخی تِرا گھرانا مدنی مدینے والے (1)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## امیرِ اھلِسُنَّت او رمضان

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونو!** د امیرِ اھلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَہ د **رَمَضَانُ المُبَارَک** سره ډیره مینه ده کله چې دا تشریف راوړي نو هغوئي ډیر خوشحالیږي او کله چې یــې د تللو وخت شي نو هغوئي ډیر خفه وي- خپل حالت پخپله بیانوي او فرمائي: کله چې **رَمَضَانُ المُبَارَک** رخصتیږي نو داسې ښکاري لکه چې ډیر لوئي نقصان شوے وي، یعنې داسې حالت یــې وي چې په چغو چغو وژاړي- څنګه چې د رخصتیدو وخت رانزدې کیږي نو زړه بې قراره کیږي ګویا خوشحالۍ په هغه وخت کښې ورکې شان شي چې رَمَضَانُ المُبَارَک روان دے!! رَمَضَانُ المُبَارَک روان دے!!

هغوئي د **رَمَضَانُ المُبَارَک** سره د خپل عشق په اظهار کښې یو کلام لیکلے دے بلکې د ټولو نه وړومبے کلام کوم چې هغوئي لیکلے وو په هغې کښې هم د **رَمَضَانُ المُبَارَک** د جدایۍ او د دې د فراق درد دے(2) هغوئي لیکي:

---

1...وسائلِ بخشش، صفحہ:425۔

2...مدنی چینل پر وگرام: دلوں کی راحت، 29 رمضان کریم 1441ھ مطابق 22 مئی 2020ء۔

| | |
|---|---|
| قلبِ عاشق ہے اب پارہ پارہ | اَلوَداع اَلوَداع آہ! رَمَضاں |
| کُلفتِ ہجر و فرقت نے مارا | اَلوَداع اَلوَداع آہ! رَمَضاں |
| تیرے آنے سے دل خوش ہوا تھا | اور ذَوقِ عبادت بڑھا تھا |
| آہ! اب دل پہ ہے غم کا غلبہ | اَلوَداع اَلوَداع آہ! رَمَضاں (1) |

◈ چرته هغوئي د رَمَضَانُ الْمُبَارَک د قدر نهٔ کولو اِظهار فرمائي:

| | |
|---|---|
| میں ہائے! جی چراتا ہی رہا ربّ کی عبادت سے | گزارا غفلتوں میں سارا رمضاں یارسولَ اللہ! |
| میں سوتا رہ گیا غفلت کی چادر تان کر افسوس! | خدارا! میری بخشش کا ہو ساماں یارسولَ اللہ! (2) |

◈ چرته د رَمَضَانُ الْمُبَارَک پهٔ جدايئ کښې د خپل زړهٔ د درد اِظهار څهٔ داسې فرمائي:

| | |
|---|---|
| جاں فِدا تجھ پہ ناناۓ حَسَنَین! | قلب ہے غمزدہ اور بے چَین |
| دل پہ صدمہ بڑھا جا رہا ہے | ہائے تڑپا کے رمضاں چلا ہے (3) |

ګویا د رَمَضَانُ الْمُبَارَک سره د محبت د اِظهار، د دې پهٔ جدايئ کښې د غمژن حالت، پهٔ دې کښې د عبادت او د رياضت د خواهش او د ارمان ښه ډير اِظهار مونږ ته پهٔ وسائلِ بخشش کښې ميلاوئيږي۔

---

1...وسائلِ بخشش، صفحہ:651۔
2...وسائلِ بخشش، صفحہ:679۔
3...وسائلِ بخشش، صفحہ:683۔

# عاشقان او مدينه منوره

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** عام طور چې نعتيه شاعر چرته د نبي پاک صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د صفتونو او كمالونو ذِكر خير كوي نو هلته د هغوئي په كلامونو كښې د مدينے منورې ډېر زياتوالے موجود وي- د دې څۀ وجه ده؟ علمائے كرامو ليكلي دي چې وجه دا ده چې دلته مكي مدني آقاء اِمامُ الانبيا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تشريف فرما دے- (1)

اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه ليكلي دي:

یہ ہر عاشقِ مصطفٰے کہہ رہا ہے | ہمیں تو ہے جنت سے پیارا مدینہ
یہ رنگیں فضائیں یہ مَہکی ہوائیں | معطّر مُعنبر ہے سارا مدینہ
مَدینے کے جلووں کے قُربان جاؤں | خدا نے ہے کیسا سَنوارا مدینہ
پہاڑوں میں بھی حُسن کانٹے بھی دِلکش | بَہاروں نے کیسا نِکھارا مدینہ
وَہاں پیارا کعبہ یہاں سبز گنبد | وہ مکہ بھی میٹھا تو پیارا مدینہ
بُلا لیجئے اپنے قدموں میں آقا | دِکھا دیجئے اَب تو پیارا مدینہ (2)

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** مدينه خو مدينه ده، د مدينے منورې هم څومره ښكلے شان دے، واقعي چې مدينه منوره د عاشقانو جَنَّت دے- دلته دا وضاحت كووم چې كله مدينے منورې ته د جنت نه ښكلې وائي نو هلته د جنت نه هغه حقيقي جنت مراد نۀ وي، دا د عاشقانو يو ځانګړے مزاج دے، دوئي د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په نسبت مدينے ته جنت وائي، البته په مدينه منوره كښې خاص د زمكې هغه حصه كومه چې د خوږ آقا و

---

1...تاريخ مدينه، صفحه:9۔

2...وسائلِ بخشش، صفحه:355۔

مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د وجود مبارک سره لګیدلي ده یعني د قبر مبارک دننه حصه دا خو د جَنَّت نه څه چې د عرشِ اعظم نه هم افضله ده-[1]

پۀ داسې ځائے کښې د جَنَّت نه هُغه حقیقي جَنَّت مُراد نۀ وي، دا د عشق والؤ خپل یو ناشنا انداز دے، دوئي د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ نسبت سره مدینے منورې ته جَنَّت وائي او د مدینے منورې طلبګار هم اوسي او پۀ مدینه منوره کښې د مرۀ کیدو دعاګانې هم کوي:

موت ایماں پہ دے مدینے میں اور محمود عاقبت فرما
تُو شرف زیرِ گنبدِ خضرا مجھ کو مرنے کا مَرحَمت فرما (2)

او څوک چې د نبي پاک صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ خوا کښې مړ شي هغه هُم ډیر د نصیب والا ګڼي:

سب پکارو جھوم کر میٹھا مدینہ مرحبا کر کے خم سب اپنا سر میٹھا مدینہ مرحبا
نور برساتے مَنارے سبز گنبد کی بہار دل ہو روشن دیکھ کر میٹھا مدینہ مرحبا
جو مدینے آگیا عطّار آکر مر گیا وہ بڑا ہے بختور میٹھا مدینہ مرحبا (3)

## لکھ رہا ہوں نعتِ سرور سبز گنبد دیکھ کر

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** د امیرِ اهلسنت مولانا محمد الیاس عطار قادري دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَہ د شاعرۍ دا ځانګړے انداز دے چې دوئي په خپله شاعرۍ کښې صرف حقیقت

---

1...فتاویٰ رضویہ، جلد:10، صفحہ:711۔
2...وسائلِ بخشش، صفحہ:75۔
3...وسائلِ بخشش، صفحہ:152-154 ملتقطاً۔

بیانوي. په دې باره کښې یوه واقعه واورئ: د یو اسلامي ورور بیان دے چې یو ځل امیرِ اهلسنت دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَه په مدینه شریف کښې حاضر وو نو د سیدي قطب مدینه جانشین حضرت مولانا فضلُ الرّحمٰن صاحب رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْه دوئي ته د یو کلام لیکلو حکم وفرمائیلو چې ردیف یې وي ''**سبز گُنبد دیکھ کر**.'' امیر اهل سُنَّت د کلام لیکلو د پاره د مسجدِ نبوي شریف په صحن کښې حاضر شو، کلام لیکل یې شروع کړل او کله به چې شعر ختمولو باندې ''**سبز گُنبد دیکھ کر**'' لیکل وو نو اول به یې د شین ګنبد زیارت کولو او بیا به یې دا لیکل: ''**سبز گُنبد دیکھ کر**.'' راځئ چې د دې کلام ځینې شعرونه واورو:

لِکھ رہا ہوں نعتِ سَرور سبز گُنبد دیکھ کر | کیف طاری ہے قلم پر سبز گُنبد دیکھ کر
ہے مُقدّر یاوَری پر سبز گُنبد دیکھ کر | پھر نہ کیوں جُھومے ثَنا گر سبز گُنبد دیکھ کر
مسجدِ نبوی پہ پہنچے مَرحَبا صلِّ عَلیٰ | ہوگیا جاری زَباں پر سبز گُنبد دیکھ کر
رُوح کو تسکین جانِ مُضطَرِب کو چین ہے | دِل کو بھی رَاحت مُیَسَّر سبز گُنبد دیکھ کر
آہ! اے عطّار اتنا بھی نہ تُجھ سے ہوسکا! | جان کر دیتا نچھاوَر سبز گُنبد دیکھ کر (1)

## د امیرِ اهلسنت د شاعرۍ اثرات

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** لکه څنګه چې مونږه واوریدل چې د امیرِ اهلسنت دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَه شاعري صرف د لفظي او شاعرانه تکلفاتو په شکل کښې نۀ وي بلکې د دوئي په شاعرۍ کښې د زړه جذبات، د عشق او محبت عکاسي وي، په دې وجه د دوئي شاعري لوستلو او اوریدلو سره ❁ د عشق ❁ محبت ❁ الفت ❁ ادب او ❁ احترام جذبه نصیب کیږي.

❁ ډیر داسې خلک دي چې هغوئي ته د دوئي د کلام لوستلو او اوریدلو سره د خدائے ویره

---

1...وسائلِ بخشش، صفحہ:228تا230ملتقطاً۔

نصيب شوه ۞ ډيرو خلکو ته په عشقِ رسول کښې د زړه دردحاصل شو ۞ډيرو خلکو ته د صحابه او اهلِ بيت محبت نصيب شو ۞ ډير داسې خلک دي چې هغوئي ته د مکې او مدينې محبت مِلاو شو ۞ او ډير داسې خلک دي چې هغوئي ته د رمضان په محبت کښې ژړا نصيب شوه ۞ بلکې د دوئي کلام اوريدلو سره ډير داسې خلک دي چې عقائد يـې صحيح شول. د يو اسلامي وړور بيان دے چې ديني ماحول کښې د راتللو نه مخکښې چې ما د چا نه قرآن کريم لوستلے وو د هغهٔ عقائد صحيح نهٔ وو، خو يو ځل زهٔ سخت حيران شوم چې کله ما هغه د دعوتِ اسلامي په اجتماع کښې وليدو، د سنتو مطابق جامې يـې اچولې وې، عمامه شريف يـې په سر وه، ما ترې د تبدلئ په باره کښې تپوس وکړو نو ويـې وئيل چې د صحيح عقائدو نهٔ کيدلو په وجه مې د نبي پاک صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهٖ وَسَلَّم د نعتونه اوريدلو څه خاص شوق نهٔ وو، خو يو ځل مې يو کلام واوريدو چې په زړه باندې مې يـې ډير اثر وکړو او هغه مې مسلسل اوريدو، چې معلومات مې وکړو نو پته راته ولګيده چې دا د اميرِ اهلسنت مولانا محمد الياس عطار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهم الْعَالِيَه کلام دے. داسې ښکلې او زړه سوزونکي کلام اوريدلو نه پس مې نور د نعتيه کلامونو لوستلو او اوريدلو شوق پيدا شو نو ما د امير اهلِ سنت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د نعتونو ديوان ”وسائلِ بخشش“ حاصل کړو بيا څه وو، ما به وسائلِ بخشش لوستو او زړه به مې صفا کيدو، اَلْحَمْدُلِلّٰه! زما عقائد ښهٔ شو او زهٔ د دعوتِ اسلامي د ديني ماحول سره وابسته شوم. اَلْحَمْدُلِلّٰه! اوس مې وسائلِ بخشش شريف د وظيفې په طور د لوستلو معمول دے.

اے امیرِ اہلسنّت تیری شوکت زندہ باد
تجھ سے دُنیا بھر میں ہے دِیں کی اِشاعت زندہ باد
تیرے دَم سے آئی وہ دین و شریعت کی بہار
اعلیٰ حضرت زندہ اور صدرِ شریعت زندہ باد

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## نعت شريف وئيل اسان کار نهٔ دے

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! اګر که د نعت شريف د ليکلو هم ډير برکتونه دي خو دا خبره پهٔ ذِهن کښې کښينوئ چې نعتيه شعرونه ليکل د هر چا د وَس خبره نهٔ ده، او نهٔ هر چا ته د دې اِجازت شته ، د نعتيه شاعرۍ د پاره د شاعرۍ د فن د اُصولو سره سره د عِلمِ دِين دولت او نور ډير څيزونه ضروري دي، ځکه چې دا دربار عام دربار نهٔ دے، د دې دربار ادب قرآنِ کريم راښائي او مونږ له خبردارے راکوي چې پهٔ دې مبارک دربار کښې پهٔ ادب سره اوسئ ګني ستاسو اعمال به ضائع شي او تاسو ته به پته هم اونهٔ لګي-

بَا خُدَا دِيْوَانَه بَاشَدْ بَا مُحَمَّدْ هُوْشِيَار

مفهوم: يعني د اللّٰه پاک پهٔ محبت کښې ديوانه شه خو د دربارِ رسالت د ادب پهٔ معامله کښې د هوښيارۍ نه کار واخله-

قربان شم! د اعلیٰ حضرت اِمام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د کمال اِحتياط نه چې د نعت د ليکلو د پوره اهليت لرلو او د شاعرۍ د فن پهٔ اُصولو کښې د مهارت حاصلولو باوجود به يې نعت شريف ليکلو ته يو ګران کار وئيلو نو هم پخپله فرمائي: پهٔ حقيقت کښې نعت شريف ليکل ډير ګران کار دے، کوم چې خلق اسان ګڼي، پهٔ دې کښې د تورې پهٔ تيرهٔ طرف تلل دي-[1]

اميرِ اهلِسُنَّت مولانا محمد الياس عطّار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د خپل کتاب **کُفريه کَلِمات کے بارے میں سوال جواب** پهٔ صفحه 232 د نعتيه شاعرۍ پهٔ باره کښې اِرشاد فرمائي: دا د صحابهٔ کرامو رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُم سُنَّت دي يعني د بعضو صحابهٔ کرامو (رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُم) مثلاً ◈ حسان بن ثابِت

---

1...ملفوظاتِ اعلیٰ حضرت، حصہ دوم، صفحہ:227-

◈ زيد رَضِيَ اللهُ عَنْهما نه د نعتيه شعرونو ليکل ثابت دي- خو دا پهٔ ذِهن کښي ساتئ چې نعت شريف ليکل ډېر ګران فن دے، دې د پاره د فن ماهر او عالِمِ دِين کيدل پکار دي، ګني چې عالِم نهٔ وي نورديف، قافيه او بَحر (يعني د شعر وزن) وغيره برابرولو د پاره دخلافِ شان الفاظومرتب کولو انديښنه وي- عامو خلقو ته د شاعرۍ شوق کول مناسب نهٔ دي ولې چې د نثر پهٔ مقابله کښي پهٔ نظم کښي د کُفرياتو د صُدُور (يعني واقع کيدو) ډېره انديښنه وي-

نعتِ شہ کونین کا لکھنا نہیں آساں | لغزش ہو تو ایمان کے جانے کا خطر ہے

## د بيان خُلاصه

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** په قرآن کريم کښي ځائے په ځائے د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهٖ وَسَلَّم نعتونه موجود دي ◈ انبيائے کرامو عَلَيْهِمُ السَّلَام هم په خپلو خپلو زمانو کښي د محبُوب نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهٖ وَسَلَّم توصيف او ثنا کړې ده ◈ او د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهٖ وَسَلَّم نعتونه وئيل ◈ د صحابهٔ کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُم ◈ او د نيکانو خلقو طريقه ده- خو ياد ساتئ چې دا د هر چا د وَس خبره نهٔ ده ځکه د دې شاعرۍ د فن سره سره، د کمال عِلم او ادب کيدل هم ضروري دي- اميرِ اهلِسُنَّت مولانا محمد الياس عطار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د دې وخت نهٔ يواځې عِلمي او روحاني شخصيت دے بلکې هغوئې ډېر لوئې عاشقِ رسول نعت ليکونکے شاعر هم دے- د هغوئې پهٔ شاعرۍ کښي د عشقِ رسول نظاره ◈ د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د صفتونو او کمالونو ښکلا ◈ او د مدينے منورې درد او محبت پهٔ نظر راځي- د هغوئې د شاعرۍ پهٔ لوستلو يقيناً چې عشقِ رسول زياتيږي- **اللّٰه** پاک دې زمونړه د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عشق او محبت نصيب کړي-

اٰمِيْن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

# یو څو ضروري اعلانونه

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! ۞ د مکتبةُالمدینه ایمان تازه کوونکې رساله "**تعارف امیرِ اہلِ سنت**" دا یوه ځانګړې او معلوماتي رساله ده، چې پکښې د امیرِ اهلسنّت مولانا محمد الیاس عطّار قادری دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَه بابرکت شخصیت، اصلاحي خدمات، تبلیغي جدوجهد او د نېکۍ د دعوت ښکلے سفر په زړه پورې انداز کښې بیان کړے شوے دے. دا رساله د مکتبةُالمدینه د کومې هم څانګې نه په 35 روپۍ قیمتاً حاصله کړئ. ۞ دغه رنګ مکتبةُالمدینه یو اهم کتاب "**مکتوبات امیرِ اہلِ سنت**" هم شائع کړے دے. په دې کتاب کښې د امیرِ اهلسنّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَه هغه بابرکت خطونه او تحریرونه شامل دي کوم چې هغوئي دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَه په مختلفو موقعو لیکلي دي. دا کتاب د مکتبةُالمدینه د کومې هم څانګې نه په 1000 روپۍ قیمتاً حاصل کړئ.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد